مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۳/۰۹

# پوښتنې او غوښتنې

## د مارچ اتمه

## د ښځو نړیواله ورځ



له پېړيو راپه‌دې‌خوا له افغان مېرمنو سره توپيري چلن شوی دی او همدااوس هم دا غميزه په خپل ټول شدت سره روانه ده. ښځه د زېږېدو له ورځې د نارينه په واک کې ده او نارينه هم ټول عمر ورسره تاوتريخوالی او ناوړه چلن کوي.

زموږ په ټولنه کې له ښځينه‌وو سره د ډېري سلنې نارينوو تاوتريخوالی او ناوړه چلن د ښځې د زېږېدو له ورځې داسې پيل کېږي چې نارينه څنګه پوه شو چې نوی زېږېدلی ماشوم جلۍ ده، تندی يې تريو وي، ماشوم او مور ته ښکنځلې کوي. ښاغلی؟ نارينه ځان پر دې باندې نه پوه کوي چې همدا اوس يوه بله مهربانه مور وزېږېده، يوه بله مينه‌ناکه مېرمن پيدا شوه، يوه بله زړه‌سواندې خور د ګل په څېر وغوړېده او په کور کې يې يوه بله ډيوه بله شوه.

ښځه نور د نارينه له پاره څه وکړي: ښځه د نارينه له‌پاره مور ده، خور ده، د ژوند ملګرې ده، په هر رنګه سړو تودو کې اوږه ورکوي او...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خو بیا هم نارینه له ټول ژوند نه هغې ته قفس جوړوي او همدا ښکلې او مینه‌ناک موجود په کې اچوي. یوې شاعرې د شعر په ژبه په هنري ډول ځان داسې له نارینه سره د ژوند شریک او ملګرې ګڼي، خو نارینه بیا...

له یو نارینه ځخه  یوه په خبره یوه او بینا شاعرې څو پوښتنې کړې دي، دا شاعره آمنه فنا ده، آمنه فنا دا پوښتنې په ډېر سنجش او هوښیارتیا سره طرح کړې دي. دا داسې پوښتنې دي چې له هېڅ نارینه سره یې ځواب نه شته. د آمنې له قلم نه د ښځې د ریښتیني مینې، له نارینه سره د مرستې او له نارینه سره د ګډژوند د مرستې ځرنوالی توزیح شوی دی او بیا له «واکدار» یعني نارینه ځخه څو پوښتنې شوې دی، او د دې پوښتنو ځواب فکر نه کوم چې څوک وویلای شي. دا هم د آمنه فنا

د شعر بشپړ متن:

واکدار

ای چې زړه مې در بایللی
ای چې ژوند ته مې دې رنګ، او خوند بخښلی
ای چې تاسره په مینه یم مېینه
ای چې بې له تا جنت کې یم غمجنه

ای چې تانه مې قربان واړه هستي ده
ای چې تانه مې جار کړې زندګي ده
ای چې سیوری د بنو مې در پېرزو دی
ای چې نور د دوو لیمو مې درپېرزو دی

ای چې ستا خوښې مې هر څه کې لیدلې
ما همځاغه لار په سر سترګو منلې
ای چې ستا شمله مې تل هسکه ساتلې
که مانی زما د هیلو نړېدلې

یه واکداره! یه وکداره!
ولې نه غواړې چې زه د ژوند پر لاره
شم په خپلو پښو، په خپل اختیار روانه
ولې نه منې، چې زه یم،د خپلواکه ژوند حقداره
ولې نه غواړې چې لړ شم، له خوبونو رابیداره

ولې غواړې چې د جبر، دېوالونه رانه تاوو وي
ولې غواړې چې تل ستا د واک لاسونه رانه تاوو وي
ولې غواړې چې اسیره دې اوسېږم
ستا ملنګه، ستا فقیره دې اوسېږم

ولې غواړې احساسات مې دې جمود وي
رژېدلی مې دې ګل غوندې وجود وي
ولې غواړې اهتزاز ونه لرمه
زه په خیال کې هم پرواز ونه لرمه

زما ذات په څه نیمګړی درته ښکاري؟
او خپل ځان ځله پیاوړی درته ښکاري؟
زه او ته دواړه اشرف المخلوقات یوو
زه او ته له یو بل، نه کم یو، نه زیات یوو

څه به ژوند وي چې هر پل مې ستا په واک وي
هره لار او هر منزل مې ستا په واک وي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځه به ژوند وي چې خپل ځان رانه خپه وي
خپل زړګی او خپل ارمان رانه خپه وي

ځه به ما سره حساب د زنده ګی وي
ځه به ما سره ځواب د بنده ګی وي
خدایه ماته دې که هر عذاب ټاکلی
خو ما نه، چېرې ژوند کړی، نه مې چیرې ژوند لیدلی

آمنه ـ فنا

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ